یودېرشم پودکاست

## بنسټیز تاسیسات یا زېربنا

داود جنبش: ټولو اورېدونکو ته د سلام او درناويو په وړاندې کولو، د پودکاسټونو د لړۍ يوه بله خپرونه پېلوو. د نن موضوع لوی تاسیسات يا زيربنا ده چې د ټولنيز او اقتصادي ژوندانه څرخ تاووي.

این برنامه نیز مانند شماره های گذشته با اشتراک رئیس جمهور محمد اشرف غنی اجراء میشود، من داود جنبش استم.

دوکتور غنی سلام و خیر مقدم به شما.

دوکتور غنی: بسم الله الرحمن الرحيم و علیکم السلام، احترامات به جناب شما و تمام هموطنان در کشور و در تمام اکناف جهان.

داود جنبش: ژوندي اوسئ استاده، راځئ خپرونه خو موضوع يې معلومه شوه، له دې به يې راپيل کړو چې زيربنا څه شی دی؟ او کله چې دا اصطلاح کاروو څه ته اشاره لرو؟

دوکتور غني: د زيربنا تعريف بين‌المللي اصولو نه واضح نه دی، عمده دليل يې دا دی چې زيربنا په دوامداره توګه په بدلون کې ده. که ډېره آسانه يې ونيسو، پنځو برخو باندې اوس ترکيز دی چې برېښنا ده؛ ترانسپورت دی؛ د بدرفت د اوبو تنظيم دی ځکه چې روغتيا باندې ډېر سخت تاثير لري؛ له سيلابونو نه د تاسيساتو مخنيوی دی، ساتل دي؛ د خوراک يا د ډوډۍ توليدات دي او اوبه لګول دي. اما که پراخه يې کړئ، تقريباً نولس بخشو ته رسېږي يا شل بخشو ته رسېږي چې ان‌شاءالله تعالی چې پر راتلونکو مرکو کې په دې باندې به په تفصيل وغږېږو.

زما عرض دا دی چې تر نولسمې پېړۍ پورې زيربنا ته کتل يا بنيادي تاسيساتو ته يو ليدلوری په کار دی؛ پس له نولسمې پېړۍ نه چې لومړی او دويم صنعتي انقلابونه راځي او پس له هغه نه دريېم او څلورم، بايد بل رقم وګورو. نن د مثال په توګه که فايبراپټيک شبکه چې د انټرنېټ لپاره ضرور ده، دا په زيربنا کې ونه ګورئ يا د مثال په توګه پايپ لاينونه، په دې کې ونه ګورئ؛ نو بيا وضعيت تغيير کوي. مګر ضرور په دې دی چې اول پوه شو چې يو ملک په کوم حالت کې دی او د دې لپاره چې وده وکړي، کوم رقم تاسيسات يې په کار دي او بل مقصد د دې څه دی او د څه لپاره؟ د دې دليل دا دی چې په راتلونکو لسو کالو کې حداقل تحليلونه دا دي چې په کال کې به ۶،۹ يا ۷ تريليونه ډالر به په کال کې به پر زيربناو باندې لګېږي او دا راځي په راتلونکو لسو کالو کې څو اويا تريليون ډالرو ته، او هيله‌من

یم چې په تفصيل باندې په دې باندې وغږېږو؛ اما ستندرد بين المللي تعريف موجود نه دی، د هغه له نظر نه پرتله کول د دې غير له دې نه چې په سکتورو يې ووېشو، ګرانه ده. وختې چې په سکتور باندې راشو لکه برېښنا باندې يا ترانسپورت باندې بيا يې پرتله آسانتره ده.

جنبش: زه فکر کوم همدغسې به وکړو، د اوس لپاره به دغه دوه برخې سره بېلې کړو، يو لرغوني تاسيسات تر نولسمې او شلمې پېړۍ پورې، هغه به بيا دويمه برخه کړو بيا به په هغې کې نور سکتورونه به جدا کړو. کومو پنځو اړخونو نه چې تاسې ورته اشاره وکړه، زما اخيستنه دا ده چې يو انسان مجبور و چې ځان ته خواړه پيدا کړي، څنګه يې پيدا کړي؟ بل دا و چې چاپېريال خپل خوندي وساتي، څنګه يې خوندي کړي چې ژوندی پاتې شي. بل انرژي پيدا کړي چې دا هر څه پرې وچلېږي، بل ښارونه ولري چې هغې کې څنګه ژوند وکړي؟ او بل څنګه له يو ځای نه بل ځای ته دی لاړ شي يا دوی لاړ شي او څنګه مواد ولېږدوي؟ يعنې دغه پنځه برخې په کې دي. دغه تاسيسات په افغانستان کې څومره سابقه لري او له کومه وخته يې ليدلی شوو؟

دوکتور غني: که دې تاسيساتو باندې غږېږو دوه برخو باندې بايد وغږېږو؛ که د اوبو مديريت ته ګورو يا ښاري ژوند ته، کم له کمه دلته موږ ۴ زره کاله تر ۵ نيم زره کالو باندې غږېږو. همدارنګه که په خوځښت کې ګورو سوداګرۍ ته يا د موادو په انتقال باندې دا هم کم له کمه ۳ نيم زره تر ۴ نيم زره کاله سابقه لري. نو که په مشخصاتو باندې يې وغږېږو، پر هرې برخې کې شايد بهتره وي او دليل دا دی چې په پخوانيو مرکو کې تاسې ځينې پوښتنې وکړلې چې د لرغوني دوران په باره کې او هغه دوران کې ما وويل چې بايد لرغونو کېندنو [ته] بايد وګورو. له ښې مرغې نه په دې څو تېرو اوونيو کې ما زښت ډېر نور مواد پيدا کړل، چې انځور يې په دې لس کالو کې ګرځولی چې مخکې له هغه نه ما نه و لوستي، پس له تقريباً ۴۰ کلو نه زه بيا هم راغلم لرغون پېژندنې ته او د لرغون پېژندنې په اساس کې اوس موږ يو بل رقم انځور لرو.

جنبش: راځئ د خوړو د توليد نه به يې پيل کړو، څکه انسان بې خوړو ژوند نشو کولای د دې لپاره يې کرنيزو تاسيساتو ته يا زيربناوو ته اړتيا درلوده، دغه نظام په افغانستان کې څنګه و؟ يو منظم شکل يې درلود، که هر چا چې هر څه غوښتل هغسې يې کول؟

دوکتور غني: نه بالعکس، يو ډېر منظم شکل يې درلود. حد اقل ۲ نيم زره کاله نظام بې‌حد منظم و، ځکه موږ ددې لپاره د ښې مرغې نه اوس ليکلي اسناد لرو. له قندهار نه چې هغه وخت اراکوزيا نومېده، د هلمند په طول کې، يعنې اساساً که وګورئ زموږ عمده سيندونو ته، زموږ هر يو سيند د يوه دوامدار تمدن خاوند و او اوس له هخامنشي دورې نه، د يوناني دورې نه، کوشاني دورې نه ارشيفونه پيدا شوي دي. لومړۍ خبره دا ده چې څمکه څنګه مديريت شوله؟ کومو فورمولو لاندې مديريت کېده؟ او آخري اسناد هم چې د افغانستان د شمال له ارشيف نه مو پيدا کړي دي چې حدود د دې شپږسوه کاله دي، د يوناني دورې نه تر اسلامي دورې راتګ پورې، ښيي چې د ځمکو نظام په عين

فورمولو کې و چې په نولسمې پېړۍ کې او اوس په شلمې او یوویشتمې پېړۍ کې موږ په خپلو اسلامي محاکمو کې لرو. یعنې په دې معنی چې ځمکه شخصي وه، جایداد هم شخصي و، په ځنګ کې یې دولتي جایداد هم و او ځنګ کې یې وقفونه وو او دا جایداد خرڅېده، اخیستل کېده، پلورل کېده او حدود واضح وو او فورمول هم ډېر واضح دی. شاهدان په کار وو، قباله په ډېره منظمه توګه وه، دا مهرونه دا ټول لګېدل. هم د بازار انسجام موجود و او هم د محکمې. دې کې یو تداوم شته. ډېره عجیبه ده چې ۲۵۰۰ کالو په حدود کې عین فورمولونه د ځمکې راځي. بله برخه د اوبو مدیریت دی، او د اوبو نظام –ځکه چې د افغانستان عمده ښارونه ټول په سیندونو باندې استوار دي، او سیندونو هم د دې زمینه برابروله چې د خوړو مواد پیدا شي او هم د ښارونو وده هم په دې باندې تړلې وه او هم څړځایونو باندې. نو د دغو ټولو انسجام شته، که هر یو باندې تاسې واضح پوښتنه وکړئ، زه به ان‌شاءالله تعالی ځوابونه درکړم.

جنبش: از زمین شروع کنیم، شما گفتید یک قوانین خاصی و اصول خاصی وجود داشت که زمین چگونه ملکیتش تنظیم شود و چگونه تحت زراعت بیاید. این قوانین توسط کی تنظیم میشد و به چه زمان سابقه اش میرسد؟

دکتور غنی: سابقه، حداقل اسناد واضحی که داریم به دوره هخامنشی –که دوره زردشتی ماست، تمدن زردشتی ماست، اسناد قندهار که از شهر کهنه قندهار که در تحقیقات باستان شناسی به وجود آمده، فعلاً این را تثبیت میکند. و همچنین در شمال افغانستان، هم در بلخ و هم در شمال شرق که ساحه قندز و بغلان و تخار است، این مواد به تفصیل وجود دارد. ساحه دریای کابل بدبختانه تحقیقات کافی نشده، اما خوشبختانه در سوات تحقیقات بسیار واضح وجود دارد، و این نشان میدهد ارتباط تجارت دراز مدت. همچنین در بنو، تحقیقاتی که در بنو صورت گرفته وضاحت بسیار واضح است که یک تمدن واضح وجود داشت. سوات و باجور هر دو اش پادشاه های مستقل داشتند. و این فورمول ها شاید از آن کرده هم عمق تاریخی زیادتر داشته باشند. نکته ییکه مورد بحث است امروز در جهان باستان شناسی، اینست که آیا در پهلوی تمدن مصر، عراق یعنی بین النهرین، هند که تمدن هراپه و موهنجودارو است، سر دریای سند و چین، آیا همزمان یک تمدن در دریای آمو و دریای هلمند وجود داشت یا نی؟ جواب این به صورت واضح امروز ها یا نی نیست، اما بحث جریان دارد و یک دلیل عمده ییکه جواب را داده نمی توانند اینست که بدبختانه در افغانستان تحقیقات باستان شناسی برای چهل سال به صورت دوامدار صورت نگرفته و دوم بدبختانه یک قسمت زیاد آثار تاریخی ما غارت شده. تنها چیزیکه در این تمدن که بعض اوقات به نام تمدن دریای آمو، طرف دیگرش دریای هلمند یاد میشود، اینست که هنوز تثبیت نشده که اینها طریق نوشتن داشتند یا نداشتند. غیر از آن تمام عناصر عمده یک تمدن مستقل که در عین حال در ارتباط بسیار واضح با این تمدنهای دیگر بود، وجود دارد.

جنبش: اوسنۍ پښتونخوا کې ځینې اسناد، تاسې هم ورته اشاره وکړه او زما داسې تېرو کلونو له لوستونو نه په یاد دي چې یو قانون د «شیخ ملي» چې د ځمکې د ملکیت، خرڅ او پېرل یې تنظیمول، زما د پوښتنې بله برخه دغه وه، همدغه تېره پوښتنه کې چې د ځمکې د ملکیت، کرلو، خرڅولو او اخیستلو دغه قوانین چا تنظیمول؟ ټولنې؟ که دولتونو په کې ونډه درلوده؟

دکتور غني: د ځمکو وېش چې موږ ورته وېش وايو، او سوات کې په شېخ ملي پوري تړل شوي دي، يوازې هلته نه وو، بنو کې هم دا سلسله موجوده وه، مروتو کې، وزيرو کې او نورو کې چې دې نولسمه پېړۍ کې لا هم دوام درلود. دا سلسله وه، اما د دې په څنګ کې، دا قوانين چې د وېش قوانين دي، ټولنې ترتيب کړل. او ستاسې حتماً په حافظه کې شته چې يوسفزي په لوګر او د کابل په شاوخوا کې پراته وو. او د دوی مشران – اُلغ بيګ چې د بابر کاکا و، په چل راوستل بالاحصار ته او دوه سوه د دوی يې ووژل، ځکه د دوی له قوت نه ډارېدل. بيا دوی لاړل سوات ته او سوات يې چې ونيوه، وېش يې منځ ته راوړ. او بنو کې هم مروتو، داوړو، وزيرو او دا... په طول د زمان کې تر نولسمې پېړۍ کې دا رواج درلود. نوره برخه دا ده چې وختې چې شمال د افغانستان ته يا اراکوزيا ته چې اوسنی قندهار، يا دې ته ګورو دلته دولتي نظام و او محکمه او بازار د دې نظم د دولتونو له خوا و، اما خبره چې مهمه ده، دا ده چې د تاريخ په دوام کې، هغه شی چې که د دولت له خوا هم پيل شوی و، عام رواج باندې بدل شو. يو دليل يې دا دی چې اوس اکثره دا فورمولونه زموږ په اسلامي محاکمو کې ګورئ عين رقم شاهدان په کار دي، له دعوا نه خلک ابراء ورکوي او د دعوا په ترتيب کې اسناد په کار دي. وختې چې څو زره کاله په يوه فورمول کې تداوم وي، هغه سره له دې چې نور ابعاد د فرهنګ بدلېږي، دا ښيي چې دې کې ځينې اصول وو چې ټينګ دي او د دې لپاره دوام کوي، اما د مشروعيت لوی چوکاټ يې د هغه وخت په عقايدو کې دی او ۱۴۰۰ کاله د اسلام مبين دين په چوکاټ کې بيا راغلل.

جنبش: در کنار تهیه مواد غذایی که منشأ اش زمین بود، مردم همچنان نیاز داشتند که محصولات زراعتی خود را در قدم نخست به جاهای دیگری ببرند، بفروشند یا از آنجا بیاورند و همچنان اموال و امتعه دیگر مورد نیاز خود را انتقال بدهند و اگر اشتباه نکنم نقش راه ابریشم در راه اندازی مواصلات ابتدایی ما باید بسیار تعیین کننده بوده باشد.

دکتور غنی: راه ابریشم ۲۰۰۰ سال بعدتر از راه های قبلی ما بوجود آمده. یعنی حداقل ۲۰۰۰ سال قبل از این که راه ابریشم –که ارتباط ما با چین است، این راه ها وجود داشت. طور مثال، لاجورد بدخشان به حیث یک عنصر بسیار قیمتی در بین النهرین در بابل و حکومت های دیگر و امپراتوری های دیگر بین النهرین مورد استفاده بود و حتی تا مصر رسیده بود.

جنبش: پیش از راه ابریشم؟

دکتور غنی: چند هزار سال پیش از راه ابریشم! کاوش های باستان شناسی محدود بود. حالی یک تمرکز واضح سر تجارت طولانی وجود دارد و نشان میدهد که هم تمدن هراپه و موهنجودارو ارتباط بسیار نزدیک با تمدن بلخ ما و هلمند ما، بلوچستان در این شامل است، در خلیج ارتباطات بسیار واضح تجارتی موجود بود از راه دریا و همچنین ارتباطات بسیار وسیع دیگر. در عین حال باید محدودیتش را هم ببینیم و اینست که پس سر زیربنا میآییم. قسمت اول محدودیت چیست؟ شتر اهلی شد –و این باز هم حداقل چهارونیم تا پنج هزار سال سابقه دارد، اما شتر در روزی به صورت اوسط ۲۰ کیلومتر حد قبول شده اش است، و از نگاه وزن بین ۴۰۰ پاوند تا ٦۵۰ پاوند است، نظر به نوع شتر.

این را که با هم یکجا کنید، تجارتی که سر راه طولانی باشد، هم ممکن است، هم قیمت است. بنابرین سر اقلام عمده یی تمرکز میکند مثل لاجورد واری یا عناصر معدنی بیکه انواع مختلف سلاح از یک طرف و انواع مختلف زیورات و اینها را تعیین کند. بخش دیگرش که به انتقال مواد زراعتی تعلق دارد، در اینجا هم باز دو چیز مطرح است: دریای هلمند قابل کشتی رانی بود، گندم و مواد دیگر از راه دریا انتقال داده میشد، اما اگر پنج دریای افغانستان را ببینید، همه اینها محدودیت این را دارد، که یک قسمت زیاد این سرعتش به اندازه ای زیاد است، یک قسمت این قابل کشتی رانی است، اما قسمت دیگر این قابل کشتی رانی نیست. هریرود قابل کشتی رانی نیست، مرغاب قابل کشتی رانی نیست. بناءً نکته اساسی در اینست که ارتباط شهر و ده باید به قسمی باشد که هر شهر عمده یک ساحه وسیع زراعتی را داشته باشد و به صورت عمومی این را در یک دائره ۴۰ تا ۸۰ کیلومتر دیده میتوانید. از آن که وسیعتر شود، قیمت ترانسپورت در هر ۴۰ کیلومتر دوچند میشود. ما با این محدودیت کار داریم و در اینجا حیوانات عمده مثل شتر، مرکب، آسب –در صورت ضرورت شدید، چون آسب بسیار قیمت بود؛ و در بعض موارد فیل، همه اینها مورد استفاده قرار میگرفتند. این محدودیت را باید ببینید، و از همین خاطر است که پس به مفکوره هزار شهر میآییم. چون عوض اینکه مواد را انتقال بدهید تنها به یک شهر بزرگ، شهرهای متوسط هر کدام اینها یک وسیله ارتباط میشد و از طرف دیگر، این را هم وضاحت پیدا میکند که چرا امپراتوری های مختلف ما پایتخت های متعدد داشتند، چون یا باید مواد خوراکه را انتقال میدادید به یک مرکز یا اردو و دربار را انتقال میدادید بین زمستان و تابستان و بعض اوقات در چهار فصل به نقاط مختلف؛ [این] وضاحت میدهد که چرا به صورت دوامدار دربارها در حرکت بودند. در طول این راه ها، پس میآییم باز سر این که شاهراه ها چی رقم مدیریت میشد و ضرورتش چه بود؟

جنبش: تاسې اشاره وکړه چې اهلي شوي څاروي لکه اوښ څه محدودیتونه درلودل، د مال انتقال یې آسان کړ، مګر فزیکي زور و هم د حیوان هم د انسان. بیا څه وخت دې ته انجنیري را داخله شوه، -البته انجنیري به په کرنه کې مخکې داخله شوې وي، ځکه چې د کاریزونو او ویالو جوړول بې له انجنیري فن نه، نه کېږي؛ په انتقال کې د انجنیرۍ هنر څه وخت دخیل شو چې څرخ جوړ شي چې دا انتقال آسان کړي، مثلاً ګاډۍ او نور...؟

دکتور غني: دلته یوه برخه دا ده چې څنګه امنیت د لارې نیسئ. اوله انجینري د کلاګانو انجنیري وه چې په ترانسپورت باندې تړلې وه.

جنبش: ځکه چې غله راوتل په لارو کې.

دکتور غني: هو په لارې کې، مخصوصاً موږ چې تنګی ورته وایوو، دې تنګي ګانو کې ټول ضرورت د دې و چې کلاګانې جوړې شي او دا له ډېرې پخوانۍ دورې نه، تر د مغلو امپراتورۍ او پس له هغه نه تر درانې امپراتورۍ او پس له هغه نه د بارکزیو په حکومتدارۍ کې په دوامداره توګه تر شلمې پېړۍ پورې او د شلمې پېړۍ ترمنځه پورې موجود و چې پسته تانې باندې بدلې شوې. دا ددې لپاره و چې امنیت ونیول شي او دا کلاګانې اول په تپو باندې یا په غرو

باندې جوړېدلې او ډېرې مضبوطې جوړې شوې دي. ارمه لیک د مثال په توګه هغه کلا د هرات په لاره کې، سبزک کوتل ته نږدې؛ انګرېزانو هلته یو ژمی تېر کړ، وختې چې د افغانستان شمال سرحد یې ټاکه له روسانو سره. منځ کې یې ډېرې ژورې ځاه ګانې دي او عجیب تاسیسات دي. دا یې یوه برخه د انجینرۍ ده. دویمه دا وه چې شاهي سرک حداقل بیا هم ۲۵۰۰ تر ۳۵۰۰ کاله سابقه لري په افغانستان کې او د شاهي سرک په دوام کې هم د انجینرۍ له نظره نه دوه شیان وو: یو دا چې، څنګه تاسیسات جوړ کړئ چې له کوتلونو نه تېر شئ، دا امکانات چې ټول کوتلونه –لکه پس د نولسمې پېړۍ له انجینرۍ نه، په سرکونو بدل کړي، دا نه وو، اما دا چې څنګه خلاص یې کړئ چې اوښان ورنه تېر شي او قافلې او دا ورنه تېرې شي، دا یې یو ترتیب و. بله برخه د دې کارونسرایونه وو، ځکه کلاګانې هغه مهمو ځایونو کې وې، اما په عموم برخه کې کاروانسرایونه یا به په ۲۰ کیلومترو کې وو چې د یوې ورځې لاره وه، یا به په حدود د ۳۰ و ۴۰ کیلومتره کې وو چې د یوې نیمې - دوه ورځو لاره وه. دغه شی زښت ډېر مهم دی زموږ د تاریخ له نظر نه، ځکه مخکې مو چې وویل چې کاروانونو قیمتي شیان لکه ټوکر یا طلاګانې یا نور یې استعمالول او د دې لپاره دوی خوراکي موادو ته ضرورت درلود. او په دې لویو لارو کې ټول افغانان په څو زرو کالو کې پیسو باندې پوهېږي. دغه حواله سیستم چې تراوسه پورې موجود دی او په قوت چلېږي ټولو برخو کې هندوستان، افغانستان، پاکستان، خلیج کې او نورو ځایونو کې، دغه سیستم هم ډېر پخوانی دی. نو دغه انجنیري سیستم دې وخت سره راغی او د ساختمان برخه یې مهمه وه. د دې په څنګ کې د خرابولو انجنیري وه. په دې معنی چې هر فاتح، هر لښکر چې راته، لښکر کې باید دا د انجنیرۍ توان وای چې دا کلاګانې والوځوي او د ښار دیوالونه.

جنبش: حتماً به د ارابو یا د څرخونو معرفی انتقال آسان کړی وي، نه پوهېږم چې له کوم وخت نه به دغه آثار ولرو چې راته معلوم وي چې دغه وخت نه افغانستان کې څرخونه، ګاډی یا دا شیان راغلل او انتقال ورسره آسان شو.

دکتور غني: نو خبره په همدې کې ده، ډېره مهمه پوښتنه مو وکړله. دلته یو ختیځپوه دی چې زما استاد و، ریچارډ بولېت (Richrd W. Bulliet) نومېږي او ده یو کتاب لیکلی په نامه د اوښ او څرخ (The Camel and The Wheel). موږ د ارابو یا د څرخونو نښانې د کوچیاني دورې د امپراتوریو نه لرو چې مرکزي آسیا کې وې او معلومدار ټول افغانستان د دې مرکز، مرکز د آسیا یوه عمده برخه ده، مګر پس ته دا ټول ځای یې اوښ ته ورکړ. اوښ عمده وسیله شوله او دلیل ته یې هم لیدلی شئ. د ارابو سره تګ راتګ زموږ په کوتلونو کې ډېر ګران و، ځکه اوښ خپله ځي، اما هغه شی چې په ګاډیو باندې تړلی وي او ارابه دار ماشین وي، ډېر آسان یا اوښان یا کچرې یې په کار دي. له دې نظر نه د ارابو آثار موږ ډېر لږ ګورو او ګاډی موږ خپلو ښارونو کې لیدلې، اما د انتقال د وسیلې په حیث باندې مو ډېرې لږې لیدلې دي. عمده بدلون له لاریو سره راغی چې شلمې پېړۍ کې دی.

جنبش: به بخش شهرها حتماً می پردازیم، یک کمی دیگر هم راجع به انجنیری ییکه در ایجاد زیربناها و زیرساخت ها به کار میرفت صحبت بکنیم، در موردش که چگونه تغییر می یافت این انجنیری، شما اشاره هایی داشتید که

انجنیری تعمیری بود که باید قلعه ها و راه ها و اینها ساخته شود، یک انجنیری تخریبی بود که باید اینها از بین برده شوند تا اردوی مهاجم بتواند منطقه را به تصرف خود بیاورد، این تغییر چگونه صورت میگرفت؟

دکتور غنی: تمام شهرهای عمده بالاحصار داشتند. بالاحصار به حیث یک تشکیل، یک نقطه عام است. یک مثال بسیار زنده این بالاحصار چارسده است در خیبرپښتونخوا که خوشبختانه سرش تحقیقات متعدد شده به مراتب زیادتر تا بالاحصار های شهرهای عمده ما. یک اندازه تحقیقات سر بالاحصار کهنه قندهار صورت گرفته. یک نکته خدمت تان عرض کنم که اکثر تحقیقات باستان شناسی در افغانستان بدبختانه به صورت عمده سر دوره تنها یونان و باختری ما تمرکز داشت. چون این از طرف اروپایی ها صورت می گرفت و همه اینها در این دوران چه روسی، چه انگلیسی و فرانسوی در دوره یی بودند که میخواستند تفوق مدنیت اروپایی را سر مدنیت آسیایی تثبیت کنند، و از اسکندر و هجوم اسکندر استفاده سیاسی نهایت زیاد در ایجاد سلسله استعماری و اینهای خود داشتند. اما انجنیری عمده شهری ما تمرکز هم سر خود بالاحصار، سر قصر ها، سر معابد و مخصوصاً سر دیوارها و خندق ها داشت. یکی از نکات عمده اش این بود که هر شهر عمده ما خندق های وسیع در اطرافش داشت تا از هجوم جلوگیری کند. و تمام این انجنیری هم ساختمانی بود هم انجنیری دفاعی بود. و قسمت دیگرش که انجنیری تهاجمی است سر این بود که چطور خندق ها را از پیشش عبور کنند و بتوانند دیوارهای شهری را [منهدم] بسازند. و این منجنیق از یک طرف اختراع شد...، منجنیق مثل جر ثقیل ها واری بود که سنگ های بزرگ را پرتاب میکرد. بعد از این که کشف کردند باروت را، باروت استفاده میشد، اما آن به مراتب پسانتر است. اما نفته که بعداً به تیل بدل شد، مخصوصاً از آذربایجان سابقه زیاد دارد، و این وسایل مختلف جنگی است که استفاده میشود از پیشش. و انجنیری تخریب یک بخش عمده انجنیری نظامی بود.

جنبش: اوس به هماغسې له ژمنې سره سم راشوو ښاري زېربناوو ته، ښاري ټکنالوجۍ او انجنیرۍ ته.

دکتور غني: ښاري انجنیرۍ ته چې راشوو لومړۍ خبره یې [دا ده چې] زموږ ښارونه بې د اوبو له مدیریت نه، نه کېدل؛ نو کانالونه یا لویې ویالې زموږ د ښاري تمدنو د انجنیرۍ یوه ډېره عمده برخه وه. د مثال په توګه آی خانم ته که وګورئ، شاوخوا کې یې له کوکچې نه اوبه بېلې شولې، ځو کانالونه اوس په واضح توګه تثبیت شوي دي، چې له لسو تر دېرشو کیلومترو پورې یې فاصله درلودله او اوبه راتللې. او د دغو اوبو په انجنیرۍ کې تر نولسمې پېړۍ پورې ټول خلک چې تېر شوي دي واقعاً تعجب یې کړی، چې په څومره مهارت باندې او په څومره قوت باندې دا ویالې وویستل شولې او ترتیب شوې. او دلته خبره هم په دې کې ده چې چېرې تداوم شته او چېرې نشته. د مثال په توګه هرات، د هریرود مځکې له دې نه چې چنګیز خان یرغل وکړي، یو ډېر لوی د اوبو سیستم موجود و، اما ده ټول ړنګ کړل. یوازې شپېته یا اتیا نفره ژوندي پاتې وو، او دوی چې لومړی ووتل په همدې یې پیل وکړ، قولبه یې نه درلوده، خپله انسانانو قولبه وکړله. او بیا د شپاړسمې پېړۍ پیل پورې دغه په یوه لوی ډېر منظم سیستم باندې بدل شوی و چې له ښې مرغې نه موږ د اوبو د تقسیم د مدیریت او د ټولو کانالونو د اشر لپاره ټول اسناد لرو. د اشر سلسله هم ډېره زیاته مهمه

وه، څکه چې انجنيرۍ د اوبو دوه برخې درلودې: يو دا ويالې وې او دويم بندونه وو. ځينې بندونه لکه بند سلطان غزني کې سلطان محمود جوړ کړ، دوامدار بندونه وو، اما اکثر بندونه که وګورئ، د مثال په توګه د لوګر په سيند باندې يا د هلمند په سيند باندې –چې اوسني نيمروز او فراه کې وو نولسمې پيړۍ کې؛ دا کلني بندونه وو، هر کال به دا بندونه بېرته لرې کېدل او د دې لپاره يو ټولنيز اشر په کار و چې دا بېرته برابر کړي او بيا د ټولو ويالو پاکول يو اشر و. دغو ټولو هم تخنيکي برخه درلودله او تخنيکي برخې د اوبو کې هم دا مه هيروئ چې مخکې له دې نه چې ساعت راشي د اوبو تقسيم يوه معما وه او د همدې لپاره د هندسې علم او د رياضي علم نه استفاده وشوله، زموږ په اسلامي دورې کې د دې ټول مديريت د علماوو په لاس کې و، هم د ځمکو اندازه او تقسيم او هم د دې اوبو تنظيم، څکه زموږ ټولو مدرسو کې د اوبو د نظام ترتيب د نصاب برخه وه؛ نو لومړۍ برخه يې د اوبو وه. او دا چې ښار ته مو اوبه راوړلې او ښار کې څنګه وو؟ آی خانم کې چې کيندنې شوي، د مثال په توګه ډېر منظم تشنابونه په کورونو کې موجود وو چې هم تودې اوبه او هم سړې اوبه يې برابرولې او د ځان په مينځلو او د مذهبي مراسمو لپاره پاکولو باندې –څکه چې بايد په مينځلي ځان باندې، په غسل باندې مذهبي مراسم ترسره ورسوي، دغه ټول سيستمونه موجود وو. بله برخه يې خپله بيا ښاري ساختمان دی، چې که هغه کې هم مينه ولرئ، نو زه به د هغه ځواب درکړم.

جنبش: شما يک بخشی از مسئله را که آبرسانی به شهر بود تشريح کرديد، در عين حال آب فاضل بيرون بردن از شهر هم يک معما بود و گرمابه يا حمام هم يک مسئله بود، اين مسايل از نظر انجنيری و از نظر ساختمان چه رقم تأمين ميشد برای شهرها؟

دکتور غني: در اين بخش وضاحت است که در قسمت گرمابه از دوره يونان و باختری ما از شهر آی خانم صد فيصد به يقين صبحت کرده ميتوانيم  چون کاوش ها صورت گرفته در بخش پائين شهر و اين نه تنها در قصرها بلکه در مساکن مردم مرفه گرمابه وجود داشت، سيستم گرم کردن آب و استفاده از اين موجود بود. در قسمت بدرفت در تمدن اندس يا آباسين اسناد واضح داريم از هراپه و موهنجودارو، اما در قسمت بلخ بدبختانه اين کاوش ها به تفصيل صورت نگرفته، از اين جهت در مُنديگک و بلخ وضاحت بدرفت را هنوز به صورت واضح جواب داده نمی توانيم. اما اينکه يک سيستم واضح تمرکز سر آب و استفاده آب موجود بود، احتمال زياد دارد که سر سيستم بدرفت هم بايد فکر شده باشد.

جنبش: په ساختمان باندې که راته وغږېږئ، ښارونه متحدالشکله وو د انجنيرۍ له پلوه، که هر ښار خپلې ځانګړتياوې درلودې؟

دکتور غني: ځينې مواد مشترک دي، ځينې ځانګړتياوې لري. هغه مواد چې مشترک دي، لومړی تر ټولو بالاحصارونه دي چې موږ او تاسې ورباندې په تفصيل غږېدلي يوو فکر کوم. دويم مذهبي تاسيسات دي او دا په مختلفو دورو کې ليدی شئ، په مختلفو برخو کې، نو له دې نظر نه په واضح توګه ويلی شئ چې يوه برخه د ټولنيزې زېربنا –پخوا

چې وغړېدو فزيکي زېربنا وه، اما هر کلتوري نظام او مخصوصاً هغه اديان چې نړيوال حيثيت يې درلود او زموږ ټولې هغه برخې تمدني چې مخکې ورباندې غړېدلي يوو، همدا کيفيت يې درلود، خپله خاصه زېربنا يې درلودله چې اسلامي دورې کې موږ او تاسې په تفصيل وغړېدو چې جومات دی، مدرسه ده او خانقاهگانې دي. په هغه دورې کې هم ستوپه گانو د بودايي دورې کې او نورو کې، زردشتي دوران کې او دا ... موجود وو، دغه يې بله برخه ده. دا ټولې عبادتگاه گانې يوه برخه د ښاري تمدن وه هم د ښار منځ کې او هم د ښار دېوال نه هغه خوا ته يې دا امکانات درلودل. دربيم قصرونه وو او قصرونو کې هم اوس کافي اسناد موجود دي. له ښې مرغې نه، په [داسې] حال کې چې افغانستان کې دا تحقيقات درېدلي دي، ترکمنستان کې، ازبکستان کې او تاجکستان کې تر ډېره حده پورې دا مخکې تللي دي، مخصوصاً په دا تېرو ۲۴ کلو کې پس د دوی له استقلال نه؛ نو له هغه نظر نه موږ يو انځور لرو چې دا امکانات څه وو، دغه يې بله برخه ده. بيا د دې په څنگ کې مختلف کورونه دي او دې باندې پوهېږو چې دا مساوات نه وو، ټولنيز تفکيک موجود و، د کورونو په نقشو کې هم اوس کافي معلومات وتلي دي چې د دې انواع څه رقم وو، په څه ترتيب وو او خلکو په څه رقم ژوند کاوه. د دې په څنگ کې بيا مارکېټونه دي او لوی تالارونه وو. د تزئين له نظر نه يې منځ کې ډېر فرق شته او دا اکثر لرغون پېژندونکي چې دورې له يو بل نه بېلوي او په عين حال کې ارتباطاتو ته گوري، اول په دې کې گوري چې دا لوښي له څه نه جوړ شوي وو. يوه بله برخه چې ډېره دوی ته مهمه وه تر اسلامي دورې پورې، هديرې دي يا قبرستانونه. او زياترين لرغوني آثار چې مخکې له اسلامي دورې نه پيدا شوي دي، له دې قبرونو نه پيدا شوي دي. طلاتپه يې يو مثال دی، ځکه خلک چې مړه کېدل دوی سره به ډېر قيمتي لوښي، زيورات او دا به دفن کېدل او د دې مقبرو يا د فردوسي په کلمو باندې دخمه چې استعمال کړې يې ده په دوامداره توگه دې ته، دا لوی تاسيسات وو او هغې لپاره هم خاص د انجنيری ترتيبات وو او د انتقال ترتيبات وو.

جنبش: اينگونه تزئينات، از جمله تزئينات ظروف که شما به آن اشاره کرديد، از روی اينگونه نشانه ها مثل تزئين ظروف ميتوانيم دوره های مختلف انجنيری شهری را در افغانستان تفکيک کنيم؟

دکتور غنی: بلی، دوره های مختلف به همين اساس تفکيک ميشوند، بشرطيکه تحقيقاتی که صورت ميگيرد و حفرياتی که صورت ميگيرد به صورت منظم باشد. تراژيدی فرهنگی ما اينست –و اين شروع شد از طلاتپه. طلاتپه را يکی از بزرگترين دانشمندان اتحاد شوروی سابق کاوش کرد و اين ذخيره بزرگ را پيدا کرد، اما به مجرديکه همان فصل تحقيقات خلاص شد، يک چور مطلق شروع شد و او با تأسف زياد ذکر ميکند که مواد ديگر در بازارهای شهرنو و مخصوصاً در کوچه مرغ ها به صورت [آثار] انتيک فروخته ميشد. يعنی يک تجاوز سرتاسری سر آثار تاريخی ما صورت گرفت. اگر به صورت منظم کاوش صورت بگيرد، طبقه ها واضح ميشوند. يک ظرف را بايد در چارچوب کاوش پيدا کنيد. خارج از آن تعيين کردن آن نهايت مشکل بود.. فعلاً يک طريقه نو در اين، خاصتاً در بيست سال اخير، واقعاً شصت سال سابقه دارد، اما قيمتش پائين آمد و آن «کاربن ۱۴» است. با استعمال طريقه کاربن ۱۴، ميتوانيد تقريباً با دقت به مراتب واضح تر تثبيت کنيد که عمر يک جنس و همچنين عمر يک انسان چيست و

حال طریقه تثبیت DNA از طرف این کاوش های دیگر از انسانها را هم که استخوان ها و اینهای شان مانده باشد، خوشبختانه صورت گرفته میتواند. در کشورهای همجوار آسیای مرکزی ما و فعلاً در ایران هم به قوت جریان دارد، اما بدبختانه در افغانستان از آن استفاده حداقل شد. و اگر هردو را با هم یکجا کنید، انشاءالله تعالی یک طریق واضح تثبیت گذشته ما صورت خواهد گرفت، و این گذشته تنها از خاطر گذشته نیست، بلکه از نگاه تغییر اقلیم طور مثال می توانید دوره های واضح را تثبیت کنید، که در کدام دوره ها تغییر اقلیم صورت گرفت، که تمدن های ما چگونه ایجاد شدند و چگونه به زوال رفتند.

جنبش: در همین بخش آیا تفکیک دوره های مختلف انجنیری ما یا نحوه انجنیری شهری و زراعتی و اینهای ما در طول تاریخ بر اساس دوره های تمدنی بود –مثلاً زردُشتی و یونانی و بودایی و اسلام وغیره، یا معیارهای دیگری برای این تفکیک وجود دارد؟

دکتور غنی: در این یک تداوم وجود دارد، اما تداومی است که مابینش تغییر میآید با تغییراتی که در تکنالوجی میآیند. در مدیریت آب، ما یک تداوم واضح می بینیم، در اعمار بالاحصار ها، قلعه های جنگی وغیره وغیره، اما در پهلویش وقتیکه مواد تغییر میکند، طور مثال از عصر مس که میرویم به عصر آهن، تغییرات واضح میآید در آن، و از این جهت قسمت دیگر انجنیری ما انجنیری معادن ماست. چون خوشبختانه افغانستان معادن وسیع داشت، و این معادن مخصوصاً معادن آهن ما یک سابقه واضح تاریخی دارد و در قسمت عینک هم مشاهده میکنید که از دوره بودایی ما، مس عینک مورد استفاده عظیم بود. اینکه آهنگران در هرات و بلخآب، سرپُل و بامیان و اینها کدام معادن ما مورد استفاده قرار [داده] شده، باز هم کاوش های زیادتر کار دارد. یعنی یک تداوم را از یک طرف می بینید، و یک تحول و انکشاف را پهلویش می بینید. نکته کلیدی اینست که این ظرفیت در اصناف ما به صورت دوامدار وجود داشت، که بتوانند در عصرهای مختلف جوابگوی ضروریات ساختمانی ما باشند. اما مسئله ذوق فکر میکنم تعلق واضح دارد به نوع نظریات دینی ما و آن فرهنگ های دینی و تداوم آن، که این تدوام چه وقت بوجود آمد. طور مثال در دوره یونانی باختری ما نوع اعمار مجسمه ها و معابد شکل خاص داشت، در دوره زردشتی شکل خاص داشت، و در دوره بودایی شکل دیگری به خود داشت. چون هر کدام اینها نظریات واضح داشتند در این که کاینات چطور با هم دیگر مرتبط استند و نوع نیایش که در اینها صورت میگرفت انواع مختلف داشت. و این تاثیر گذار بود و از این جهت هم در مدنیت عمومی و هم در نوع تزئین شهرها، قصرها وغیره تاثیرگذار بود.

جنبش: هلته چې دا درک راځي چې معدن د جګړې لپاره ضرور دی، د وسلې لپاره ضرور دی، د دغې اړتیا درک د معدن را ایستنې او د معدن انتقالونې په تاسیساتو څه اغېز وکړ؟

دکتور غنی: یو عمده دلیل د سوداګرۍ د افغانستان او ایران تر بابل و تر مصر و دې پورې له یوې خوا نه په لاجورد پورې تړلی و. لاجورد ډېر یو خاص عنصر و او د دې انتقال او کېناستو لپاره کیندنې په بدخشان کې له بدې مرغې نه

کافي نه دي شوي، چې موږ پوه شو چې سابقه د تاريخي له نظر نه، څومره ده. اما دلته وضاحت دی چې ځينې د بدخشان ښارونه له اوسني فيض آباد نه ډېرتر وو او په مختلفو دورو کې مرکز د بدخشان فرق درلوده. بل شی دا عنصر دی چې تن TIN په پښتو کې چې ما دکشنري کې وليده، ټين ورته وايي، مگر نه پوهېږم چې پښتو او دري کلمه به څه وي، سوداگرۍ او تجارت ته ضرورت درلوده او بالآخره ټوکر و چې دا د ابرېشم په لاره بدله شوله. اوسپنه چې په افغانستان کې موجوده وه، يو ډېر مهم عنصر و. طلا، قندهار کې تر نولسمې پېړۍ پورې د طلا معادن په واضح توگه استعمالېدل تر شيرعلي خان دوران پورې. دا مختلفې برخې دي، د دغې برخې کيندنې لا تراوسه په واضح توگه نه دي شوې، عينک باندې دا کيدنې شوې دي له ښې مرغې نه، او په واضح توگه ښکاري چې دلته ډېر لوی تاسيسات وو او دا بودايي طريقې چې –يوه طريقه يې درلودله خاصه چې مسلکي ديني خلک وو، د هغوی له خوا مديريت کېدل. عينک کې که اوس وگورئ، عينک کې اوبه نشته، اما تاسيسات چې هلته دي ښيي چې دلته لوی تاسيسات وو. دغه د عينک معدن په ټولې نړۍ کې بېساري دی. اوسني نظر نه يې نه وايم، اوسني نظر نه هم بېساري دی، ځکه چې چيلي او دې سره سيالي کوي. اما په هغه دوره کې مطلق بېساری و او له دې نه مختلفو ځايونو کې حتماً صادرات کېدل او د دې ترتيب د مديريت باندې بايد ډېرترې څېړنې وشي چې موږ پوه شوو چې په څه ترتيب و.

جنبش: زه هيله من يم چې اورېدونکو دغه مقدماتي بحث د افغانستان د بنسټيزو تاسيساتو يا زېربناوو په اړه گټور موندلی وي او ورته روښانه شوې وي چې موږ له کومه وخته د زېربناوو مفهوم لرو په هيواد کې.

د دې لپاره چې راتلونکې خپرونې ته يوه مقدمه شي، تاسې يوه لنډه اشاره په پيل کې درلوده چې يوه به لرغونې دوره کړو او يوه به له نولسمې او شلمې پېړۍ نه را وروسته تر يوويشتمې پېړۍ پورې دا دورې کړو چې دې کې څه بدلونونه راغلي دي. دقيقاً د زېربناوو نوې دوره د کال په حساب يادولی شوو چې په افغانستان کې – د پېړۍ په حساب يې که نولسمه وبولو، د کال په حساب يې ويلی شوو چې له کومه وخته کېدای شي پيل شي؟

دکتور غنی: هو، دلته عمده خبره دا ده چې د سويز د کانال کيندل، د يو مشهور فرانسوی انجنير و په نامه د ديليسپ (Ferdinand de Lesseps) چې د دې کانال اساس يې کېښوده، هغه کې بريالی شو، اما معلومدار بايد اورېدونکو ته دا روښانه شي چې پيسې فرانسويانو ور نه کړې، پيسې مصريانو ورکړې، د مصر دولت دا پيسې ورکړلې، مگر پس ته انگرېزانو او فرانسويانو ور باندې چل وکړ او کانال يې خپل کړ، تر څو چې جمال عبدالناصر دا ملي کړ. دغه سړی په يوې مفکورې راغی او هغه مفکوره د برلين او د بمبئي ترمنځ پورې د اوسپنې د پټلۍ يوه طرحه وه. د اوسپنې پټلۍ په ۱۸۲۴زکال کې په انگلستان کې شروع شوله او له هغه نه بعد دغه عصر د عصري زېربنا ته راغله چې مختلف ابعاد د دې يو پس له بل نه برابرېږي او هغه طرحه چې ديليسپ وړاندې کړې وه، د امير شيرعلي خان په دوران کې وه او د دې تحقيقات په واضح توگه شوي، نه يوازې په فرانسوي ژبه کې بلکې په انگريزي کې هم شوي وو، د هغې په اساس باندې هم روسانو او هم انگريزانو په هندوستان کې غوښتل چې له افغانستان نه د رېل پټلۍ تېره کړي، اما عبدالرحمن خان دا ونه منله، نو په راتلونکي کې به دې باندې غږېږو.

جنبش: دغسې به وکړو، راتلونکي پروګرام کې به – په پیل کې مې هم وویل چې په دغو دوو دورو به یې وویشو، دوو برخو باندې. راتلونکې دوره به د اوسپنې پټلۍ، د اوسپنې لارې وې، په دې کې ډېرې خبرې شته، او ما چې کله سراج الاخبار نشر ته چمتو کاوه په پښتو باندې، عجیبې مقالې مې وموندې هغه وخت کې لږ څه له قرینې نه، له Context نه وتلې وې، ماته نه معلومېدې، اوس چې دا بحثونه راځي زه پوهېږم چې ولې سراج الاخبار، محمود طرزي او د هغه وخت میلیونو له دغې طرحې سره چې د اوسپنې لارې دې له افغانستان نه تېرې شي، مخالفت درلود.

بسیار تشکر رئیس جمهور محمد اشرف غنی، در برنامه آینده دوره های جدید ساخت و ساز زېربناها در افغانستان را مورد بحث قرار خواهیم داد. تا آن زما با شما و با شنونده ها خدا حافظي میکنم.

دکتور غنی: تشکر از جناب شما و تمام شنونده ها، زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان.